مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۰/۰۳/۱۷

# غــزل

نه د جنګ نه د سیاست قهرمانان یو
د ټاټوبي هر دښمن سره یاران یو

له زخمی، زخمی بدن مو ویني څاڅي
بې همدم او بې طبیبه، بې درمان یو

د جرګو وطن جګړو دی سوځولی
د نفاق دام کښې نښتي په فغان یو

د ګرداب په لور روانه مو بیړی ده
خو لا هم خپلو منځو کښې دښمنان یو

دا چې سپک ګوري زما درانه ټبر ته
پوهیدلي، مونږ نیمګړي انسانان یو

پسرلي په وینو سِره کړئ پروا نشته
خو ملګري به تر عمره د کاروان یو

مصطفی پسرلی
16/03/2020



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ